# سوالات پشتو صنف هفتم امتحان دوره نهم

**1 - خدای ﷻ څه ډول پېژندل کېږي؟**

الف) یوازې د خلکو له خبرو ب) د کتابونو له مطالعه ج) د طبیعت له ښکلا او مخلوقاتو د) یوازې د آسمان لیدلو

**2 - د "الحمد لله" مانا څه ده؟**

الف) د خدای ﷻ شکر ایستل ب) سلام کول ج) دعا کول د) غږ کول

**3 - کله چې مسلمان کومه ستونزه ولري، څه وکړي؟**

الف) خپګان وکړي ب) د خدای ﷻ نه مرسته وغواړي (دعا وکړي) ج) خلکو ته شکایت وکړي د) هېڅ شی ونه کړي

**4 - د خدای ﷻ لوی نعمتونه کوم دي؟**

الف) موټر او کور ب) ښارونه او دفترونه ج) ځمکه او آسمان د) کتابونه او ښوونځي

**5 - د خدای ﷻ بنده د هر کار په پیل کې څه وايي؟**

الف) سلام علیکم ب) بسم الله الرحمن الرحیم ج) الحمد لله د) لا اله الا الله

**6 - خدای ﷻ د انسانیانو، الوتونکو، ځارویو او ټولو مخلوقاتو لپاره څه یاد شوی؟**

الف) ډېر مالدار ب) ډېر رحیم ج) ډېر ځواکمن د) ډېر زده کړی

**7 - د انسان د بریا او نېکمرغۍ لپاره تر ټولو اړین څه دي؟**

الف) د خلکو مرسته ب) د خدای ﷻ عبادت او ستاینه ج) ډېر خوراک او څښاک د)ښه کول

**8 - زموږ ګران پېغمبر حضرت محمد ﷺ په کوم ښار کې زیږېدلی دی؟**

الف) مدینه منوره ب) بغداد ج) مکه مکرمه د) قدس

**9 - په کوم کتاب کې د حضرت محمد ﷺ ستاینه شوې ده؟**

الف) انجیل ب) قرآن کریم ج) تورات د) زبور

**10 - د مسلمانانو لپاره غوره بېلګه څوک دی؟**

الف) صحابه کرام ب) انبیاکرم ج) حضرت محمد ﷺ د) تابعین

**11 - د حضرت محمد ﷺ کومه ځانګړنه د مسلمانانو لپاره د پیروي وړ ده؟**

الف) تجارت کول ب) ښه اخلاق او مهرباني ج) جګړه کول د) ډېره شتمني لرل

**12 - حضرت محمد ﷺ د کومې لپاره د انسانانو د ژوند ښه نمونه بلل شوی دی؟**

الف) د کور جوړوني لپاره ب) د ښو اخلاقو او نېکۍ لپاره ج) د ډوډۍ خوړلو لپاره د) د ښکار کولو لپاره

**13 - سوله څه ته وايي؟**

الف) جګړه او تاوتریخوالی ب) د خلکو یووالي او ورورولي ج) د خلکو تر منځ کرکه د) د خلکو بې اتفاقي

سمه ځواب :**ب) د خلکو یووالي او ورورولي**

**14 - د سولې ضد څه دی؟**

الف) ورورولي ب) خدمت ج) جګړه د) مینه

**15 - د سولې په شتون کې خلک څه کولی شي؟**

الف) ښوونې او روزنې ته ادامه ورکوي ب) کروندې او کار روزګار مخ ته بوزي ج) نېکمرغي ترلاسه کوي د) پورته ټولې خبرې

**16 - د جګړې په شتون کې څه رامنځته کېږي؟**

الف) خلک له کوره بې کوره کېږي ب) مالونه له منځه ځي ج) انسانان د تاوتریخوالي ښکار کېږي د) ټول سمه دی

**17 - څه شي د سولې د دوام سبب کېږي؟**

الف) هر څوک خپل کار په ښه توګه ترسره کړي ب) له یو بل سره مرستې کول

ج) ورورولي او مینه خپرو د) ټول سمه دی

# سوالات پشتو صنف هفتم امتحان دوره نهم

**18 - کله چې په ټولنه کې سوله وي، خلک څنګه ژوند کوي؟**

الف) په وېره کې ب) په تاوتریخوالي کې ج) په نېکمرغۍ، ښادۍ او خوشحالۍ د) په جګړه کې

**19 - د سولې نه شتون د خلکو لپاره څه ستونزه راولي؟**

الف) د کورونو ورانېدل ب) بې کوري او بې وزلي ج) د ژوند سختي او بدمرغي د) ټول سمه دی

**20 - د سولې د ارزښت ساتلو لپاره څه کول پکار دي؟**

الف) یو بل ته درناوی کول ب) یو بل سره مرسته او مینه کول ج) د جګړې مخنیوی کول د) ټول سمه دی

**21 - سوله انسانانو ته کوم ارزښتونه وربه برخه کوي؟**

الف) خوشحالي، مینه، وروروليب) پرمختګ او ترقۍ زمینه ج) زده کړې، کار او روزګار د) ټول سمه دی

**22 د (ی) څو ډولونه لري ؟**

الف) دري ب) څلور ج) پنځه د) ښپږ

**23 نرمه (ی) معمولاً چېرته راځي؟**

الف) د نارینه نومونو په پای کې ب) د ښځینه نومونو په پای کې ج) په مخاطبه کې د) یوازې په عربي کلمو کې

**24 کومه کلمه د نرمه (ی) بېلګه ده؟**

الف) سړی ب) ادې ج) سپوږمۍ د) کالي

**25 څرګنده (ي) کومه ځانګړنه لري؟**

الف) پورته زورکی لري ب) لاندې دوه ټکي لري او ډېر وخت په جمع/نښتي نومونو کې راځي ج) هیڅ نښه نه لري د) یوازې د ښځینه نومونو لپاره وي

**26 کومه کلمه د څرګندې (ي) مثال دی؟**

الف) کالي ب) ادې ج) موری د) سپوږمۍ

**27 اوروده (ې) ډېری وخت چېرته راځي؟**

الف) د ښځینه نومونو په پای کې ب) د نارینه نومونو په پای کې ج) په عربي نومونو کې د) په فعلونو کې

**28 په کومه کلمه اوروده (ې) دی؟**

الف) ادې ب) سړی ج) کابلۍ د) کالي

**29 د تانیث (ۍ) کار څه دی؟**

الف) د ښځینه جنس او نسبت ښودل ب) د جمع ښودل ج) د امر فعل ښودل د) د مخاطبې نښه

**30 کومه کلمه تانیث (ۍ) لري؟**

الف) سپوږمۍ ب) سړی ج) ادې د) خوړې

**31 مخاطبه (ئ) څه ته وايي؟**

الف) هغه (ئ) چې د غږ کولو/ندا لپاره کارېږي، لکه: ای هلکانو ب) د جمعو نښه ج) د مذکر نښه د) د عربي نومونو نښه

**32 کومه جمله د مخاطبې (ئ) سمه بېلګه ده؟**

الف) ای هلکانو، درس ولولئ ب) هلکانو درس ولولي. ج) ادې کور ته لاړه. د) کابلۍ خوشحاله ده.

**33 غوره ویناوې څه ته وايي؟**

# سوالات پشتو صنف هفتم امتحان دوره نهم

الف) هغه لنډۍ، لارښوونکې خبرې چې د حضرت پیغمبر ﷺ حدیثونه او د لویانو/پوهانو سپارښتنې وي
ب) اوږدې افسانې   ج) طنزي ټوکې
د) سندرې

**34 د غوره ویناوو موخه څه ده؟**

الف) د خلکو سمون او د خطرناکو کارونو مخنیوی، د خبرې اغېز زیاتول   ب) د خبرو اوږدیدل \
ج) د شخړو ډېرول   د) د وخت ضایع کول

**35 د متن له مخې غوره ویناوې د څه زیږنده دي؟**

الف) د هوښیارانو د پوهې او تجربې   ب) د چانس او اتفاق   ج) د ماشومانو د لوبو
د) د رسنیو د اعلانونو

**36 کله چې په خبرو کې غوره ویناوې وکارول شي، څه پېښېږي؟**

الف) خبرې لا اغېزمنې او پیاوړې کېږي   ب) خبرې بې‌معنا کېږي   ج) اورېدونکي ستړي کېږي   د) معنی ورک شي

**37 متلونه د څه څرګنده بېلګه ده؟**

الف) شعرونو   ب) غوره ویناوو   ج) ټوکو
د) ناولونو

**38 کومه وینا د امانت اهمیت ښيي؟**

الف) امانت د رزق سبب دی   ب) امانت د شهرت سبب دی   ج) امانت د وېرې لامل دی
د) امانت د حسد لامل دی

**39 د دروغو په اړه کومه وینا د متن له جملو سره برابره ده؟**

الف) دروغ تر منزله نه رسېږي   ب) دروغ د عزت سبب کېږي   ج) دروغ د رزق د زیاتېدو لامل دي   د) دروغ د صبر نښه ده

**40 د غوره ویناوو یوه ټولنیزه ګټه کومه ده؟**

الف) د سوکالۍ او هوښیارۍ لارې چارې برابرول   ب) د جګړو لمسېدل   ج) د کینې خپرول
د) د بې‌اتفاقۍ ډېرول

**41 کورنۍ له کومو غړو جوړه وي؟**

الف) مور، پلار او اولادونه   ب) ښوونکي او شاګردان   ج) ملګري او ګاونډیان
د) تره او کاکا

**42 د نیکمرغې کورنۍ ګډ اصل کوم دی؟**

الف) یو بل سره مرسته او همکاري   ب) حسد او بې‌اتفاقي   ج) تل جګړه
د) دروغ ویل

**43 د مور یوه مهمه دنده کومه ده؟**

الف) ټوله ورځ موبایل کارول   ب) د ماشومانو پالنه   ج) ښار ته سفر کول
د) له ښوونځي درس ویل

**44 د پلار مسوولیت څه دی؟**

الف) لوبې کول   ب) ټوله ورځ خوب کول   ج) یوازې مېلمنو ته چای کول   د) د کور اړتیاوې برابرول او د کار له لارې روزي پیدا کول

**45 ماشومان څنګه کولی شي خپله کورنۍ نیکمرغه کړي؟**

الف) د عمر او توان سره سم د کور کارونو کې مرسته، لوست کول او نظم ساتل
ب) له کاره تېښته کول
ج) د توکو ماتول   د) له ګاونډیانو سره شخړې کو

**46 د کورنۍ اقتصاد ښه کېدو لپاره کوم کار اړین دی؟**

الف) ښوونځي پرېښودل   ب) هر څه بې‌حسابه اخیستل   ج) یوازې عاید ډېرول، نور مهم نه دي
د) سپما او د بې‌ځایه لګښتونو څخه ډډه کول

**47 آزاد ولس کومه ځانګړنه لري؟**

الف) د خپل واک خاوند وي او پرمختګ ته لاره خلاصه وي   ب) تل جګړې کوي
ج) له وطنه کډه کوي   د) بې سواده پاتې کېږي

**48 ناخپلواکۍ ژوند پایله څه ده؟**

EBA

الف) آرام او سوکاله ژوند ب) تل پاتې خوشالي ج) ترخه او بې سوکاله ژوند د) ډېرې ازادۍ

**49 د خپلواکۍ د ساتلو لپاره کوم کارونه سپارښتنه شوي؟**

الف) تعليم، زيار، او يو بل ته د ورورۍ لاس ورکول ب) بې‌اتفاقي او بې‌سوادي ج) له کاره ډډه کول

د) د نورو حق تر پښو لاندې کول

**50 انسان کله ناروغ کېدای شي؟**

الف) په ژمي ب) ښه خوراک ج) کله چې ناپاکې سابه وخورې او نظافت مراعت ونه کړې د) پاکې اوبه

**51 ناروغي د انسان په ژوند کې څه کوي؟**

الف) له ژوند څخه خوند نه اخلې او سم کار نه شي کولی ب) قد زياتوي ج) حافظه خرابوی د) د ورزش چانس زياتوي

52 کله چې ناروغ شو، څه بايد وکړو؟

الف) ډاکټر ته ولاړ شو ب) يوازې ارام وکړو ج) انټرنېټ کې درمل ولټو د) له ملګرو مشوره واخلو

**53 ولې مناسب ډاکټر ته تلل مهم دي؟**

الف) ځکه چې هر ناروغۍ لپاره ځانګړی ډاکټر وي ب) ځکه بيه ټيټه وي ج) ځکه ملګري خوش وي د) ځکه انتظار نشته

**54 په بازار کې ناپاک او خوسا خوراک څه پايله لري؟**

الف) غاښونه سپينوي ب) سترګې روښانوي ج) ګېډه درد او ناروغي پيدا کوي د) خوب زياتوي

**55 درمل څنګه وکاروو؟**

الف) د ډاکټر د نسخې سره سم او په خپل وخت ب) هر کله مو زړه وغواړي ج) د ملګري په سلا د) يوازې کله درد ډېر شي

**56 د ناروغۍ د مخنيوي له پاره کوم کار ګټور دی؟**

الف) لاس مينځل، پاکوالی او پرهيز ب) بې‌نظم عادتونه ج) د خوږو ډېر استعمال د) بې‌خوبي

**57 له ډاکټر له مشورې پرته درمل اخيستل څنګه دي؟**

الف) سم او غوره کار دی ب) يوازې ځوانانو ته ښه دی ج) مناسب نه دی او زيانمن کېدای شي - د) د هر چا حق دی

**58 زده کړه د چا طبيعي حق دی؟**

الف) يوازې شتمنو ب) د ښځو او نارينه ج) يوازې هلکانو د) يوازې دولتي کارکوونکو

**59 د اسلامي لارښوونو له مخې د علم زده کړه پر چا فرض ده؟**

الف) يوازې علما او ښځينه ب) يوازې ماشومان ج) هر مسلمان نارينه او ښځينه د) يوازې سپينږيري

**60 زده کړه له کوم پړاو څخه پيل او تر څه وخته دوام کوي؟**

الف) له ماشومتوبه پيل او تر مرګه دوام کوي ب) له ځوانۍ پيل تر ۱۸ کلنۍ پورې ج) له پوهنتون پيل تر فراغت پورې

د) يوازې په ژمي کې

**61 انسان په کوم پړاو کې په ډېرو شيانو نه پوهېږي؟**

الف) په کوچنيوالي کې ب) په ځوانۍ کې ج) په پوخوالي کې د) په زړښت کې

**62 زده کړه ملت او ټولنې ته کومه ګټه رسوي؟**

الف) جګړې زياتوي ب) هېواد ابادوي او ټولنه پرمختګ کوي ج) بې‌سوادي ډېرېږي د) کينه خپروي

**63 يووالي له کومه تر کومه اړين دی؟**

الف) يوازې په کور کې ب) يوازې په ښوونځي کې ج) له کورنۍ نه تر ټولنې او هېواد پورې د) يوازې په ښارونو کې

**64 بې‌اتفاقي څه پايله لري؟**

الف) ټولنه پیاوړې کوي ب) مینه زیاتوي ج) ټولنه کمزورې کوي او زیان رسوي د) دښمن ته ماتې ورکوي

**65 د یووالي یو مهمه ګټه کومه ده؟**

الف) پر دښمن بری او د هېواد ساتنه ب) د کارونو ځنډ ج) د افرادو تیت‌پرکوالی د) بې‌نظمي

**66 کوترې چېرته کښېناستې؟**

الف) په باغ کې ب) په کرونده کې ج) په کور کې د) په چت باندې

**67 ولې کوترې دام ته ولوېدې؟**

الف) ځکه چې اوبه پرې وې ب) ځکه چې دانې پرې اېښودل شوې وې ج) ځکه چې باران و د) ځکه چې باد و

**68 کوترې څنګه له دام څخه خلاصې شوې؟**

الف) هره یوه جلا الوتنه وکړه ب) ټولې سره یو ځای وزرونه ووهل او جاله یې پورته یووړه

ج) خوب یې وکړ د) باز یې خوشې کړې

**69 ملګري د کوترېو د خلاصون لپاره څه وکړل؟**

الف) دام یې په غاښونو پرې کړ او جاله یې وشلوله ب) اوبه یې وشیندلې ج) جاله یې وغځوله د) مرغان یې وتښتول

**70 کومه جمله د یووالي ارزښت ښه بیانوي؟**

الف) یووالي د انسانانو قوت دی ب) اختلاف د برې راز دی ج) یواځې زور مهم دی د) یوازې پیسې هر څه حل کوي

**71 کلمه څه ته وايي؟**

الف) هغه لفظ چې یوه معنا ولري او د جملې برخه شي ب) یوازې یو غږ ج) د انسان نوم د) د ښار نوم

**72 جمله له څه څخه جوړېږي؟**

الف) له کلمو ب) له تورو ج) له انځورونو د) له کتابونو

**73 نوم څه ته وايي؟**

الف) هغه کلمه چې یو ځای، یو شی یا یو شخص ونوموي ب) هغه کلمه چې کار ښيي

ج) هغه کلمه چې صفت ښيي د) هغه کلمه چې وخت ښيي

**74 کوم یو د خاص نوم مثال دی؟**

الف) کابل ب) ښار ج) کتاب د) باغ

**75 کومه کلمه د ذات نوم ده؟**

الف) اوبه ب) هیله ج) روغتیا د) خوشالي

**76 کومه کلمه د معنا نوم ده؟**

الف) روغتیا ب) ګل ج) میز د) سیند

**77 کوم یو د جنس نوم مثال دی؟**

الف) سره زر ب) موټر ج) کاغذ د) ښوونځی

**78 کوم یو مفرد نوم دی؟**

الف) قلم ب) قلمونه ج) هلکان د) شاعران

**79 کوم یو جمع نوم دی؟**

# سوالات پشتو صنف هفتم امتحان دوره نهم

الف) شاعران　ب) شاعر　ج) باغ　د) کتاب

**80 جرګه څه ته وايي؟**

الف) د محاکمې رسمي غونډه　ب) د سپین ږیرو او مشرانو ناسته چې د لانجو د حل لپاره راټولیږي

ج) د بازار میله　د) د ورزش سیالۍ

**81 جرګه کله جوړیږي؟**

الف) کله چې د یوې ستونزې حل ستونزمن وي او دواړه خواوې شخړه ولري

ب) د رخصتۍ په ورځ

ج) یوازې د اختر په ورځ　د) کله چې باران وي

**82 د جرګې ګډونوال عموماً څوک وي؟**

الف) ماشومان　ب) سپین ږیري، مشران او بې‌طرفه کسان　ج) پولیس

د) سندرغاړي

**83 د جرګې مشري څوک کوي؟**

الف) یو بااعتبار او عادل سپین ږیری　ب) هر یو زورور کس　ج) د ښاروالۍ مامور　د) دکان‌دار

**84 د محمود تره له چا سره جنګ کړی و؟**

الف) له احمد سره　ب) له نسیم سره　ج) له کرم سره　د) له استاد سره

**85 احمد د لانجې د حل لپاره څه وړاندیز وکړ؟**

الف) محکمه ته تلل　ب) د کلي مشرانو جرګه جوړول　ج) له یو بل نه پټېدل　د) نوره جګړه کول

**86 د جرګې اصلي موخه څه ده؟**

الف) د یوې خوا ګټه اخیستل　ب) د دواړو خواوو تر منځ د سوله ییز حل موندل او رضایت

ج) جریمه اخیستل　د) د رسنیو شهرت

**87 د متن له مخې جرګه په کومو موضوعاتو کې کارول شوې ده؟**

الف) یوازې د ښوونځي موضوعاتو کې　ب) یوازې د کورني جنجال لپاره　ج) په سیاسي، ټولنیزو او قومي مسایلو کې هم

د) یوازې د سوداګرۍ قراردادونو کې

**88 کابل د کوم هېواد پلازمینه ده؟**

الف) ایران　ب) پاکستان　ج) افغانستان　د) تاجیکستان

**89 متن کابل څنګه معرفي کوي؟**

الف) یو کلی　ب) ښکلی ښار او د هېواد مرکز　ج) دښت　د) بندر

**90 د کابل هوا څنګه ده؟**

الف) تل یخه ده　ب) په ژمي واوره او باران اوري، په اوړي معتدله ده　ج) تل ګرمه ده

د) په اوړي یخه ده

**91 په کابل کې کومې مهمې حکومتي ادارې شته؟**

الف) یوازې کورونه　ب) وزارتونه، ولسي جرګه، مشرانو جرګه او ستره محکمه　ج) یوازې موزیم　د) یوازې پوهنتون

**92 په کابل کې د بهرنیو هېوادونو څه شته؟**

الف) پوهنتونونه　ب) سفارتونه　ج) غرونه

د) کانونه

**93 د هېواد د محصولاتو ډېره برخه کابل ته ولې راځي؟**

الف) د ساتلو لپاره　ب) د خرڅلاو او سوداګرۍ لپاره　ج) د سفر لپاره

د) د لوبو لپاره

**94 د کابل ډېری اوسېدونکي په کوم کار بوخت وي؟**

الف) کرنه　ب) ښکار　ج) سوداګري

د) کان‌کیندنه

**95 د ملي ورځو او اخترونو پر مهال په کابل کې خلک څه کوي؟**

الف) ښار پرېږدي   ب) ګلونه او ونې پرې کوي   ج) جشنونه او غونډې جوړوي
د) ټولې هټۍ بندوي

**96 د ښار پاک ساتلو لپاره متن څه سپارښتنه کوي؟**

الف) کوڅې ککړول   ب) بوټي، نیالګي او ګلان کېنول او کوڅې او سړکونه پاک ساتل   ج) کثافات هر ځای سوځول

د) د ونو پرېکول

**97 کثافات او ناپاکي د څه سبب کېږي؟**

الف) ښکلا   ب) ناروغۍ او ککړتیا   ج) باران   د) یخني

**98 د افغانستان د حکومت ډېرې مهمې ودانۍ چېرته دي؟**

الف) هرات   ب) مزار   ج) کابل   د) لغمان

**99 د کابل په اړه کومه وینا سمه ده؟**

الف) کابل د ملي وحدت سمبول نه دی   ب) کابل د ټولو افغانانو ګډ کور ګڼل کېږي

ج) کابل یوازې د یوې قبیلې ښار دی   د) کابل یوازې د سیلانیانو لپاره دی

**100 جرګه څه ته وایې؟**

الف) د افغانانو منلی دود دی   ب) یو ښوونځی دی

ج) یوه لوبه ده   د) هیڅ یو

EBA